بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سر یال نمبر: 495

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# شمالي وزيرستان (ګړيوم): تي تي پي ګوهر ډلې ته لوی ګوزار دوه ترهګر دوزخ استول شوی

د ګړیوم په سیمه کې امنیتي ځواکونو د استخباراتي معلوماتو پر اساس د ترهګرو تګ راتګ پر وخت وپیژندل او په خورا بریالي عملیاتو کې یې دوه خوارج ووژل۔

**دتفصیلاتو له مخې، په سیمه کې ګمارل شوي امنیتي منسوبینو هغه مهال ترهګر په نښه کړل چې دوی د امنیتي ځواکونو په پوسته د برید په ناپاک نیت حرکت کاوه۔ امنیتي ځواکونو د ترهګرو تعاقب وکړ او د هغوی د تیښتې هڅه یې شنډه کړه، په داسې حال کې چې د ډزو په تبادله کې د ټی ټی پی ګوهر ډلې دوه ترهګر ووژل شول۔**





**په وژل شویو خوارج کې ترهګر معصوم عرف کاری عرف شاهین او ترهګر ظاهرالله عرف حری هم شامل دی چې په ترهګریزو بریدونو، د اتومات بمونو په نصبولو، د بې ګناه ماشومانو په ګمارلو او ترهګرو ډلو ته د اسانتیاوو په برابرولو کې لاس درلود۔ منافق ټی ټی پی د معمول په څیر د خپلو مړو ملګرو په منلو کې زړه نازړه دی۔**

په شمالي وزيرستان کې ګمارل شوي امنیتي ځواکونه په ډېر دقت او زړورتیا سره د خوارجو په حرکتونو باندې کلک نظر ساتي او هغوی ته د پټېدو او تېښتې موقع نه ورکوي۔ انشاءالله د خوارج د له منځه وړلو لړۍ به دوام لري۔

مورخہ: ۲۲ مارچ ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk